مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۴/۱۰/۱۴

# خیبره بختوره

خیبره بختوره د پښتون د جرګو کوره
ساتی به پښتانه د استبداد د ظلمو زوره

راغلي جرګه شوی پښتانه ستا په لمن کی
راسپری خپلي ستونزی د کلونو په خوړلن کی
نور نه شی تیرولی وخت په دی کلی درد من کی
دردونه ختموی به د ځلمو له موراو خوره
خیبره بختوره د پښتون د جرګو کوره

ورکړیږی ستا له غرو او له درو قومی مشران
بی شمیره وژل کیږی په کوڅو کی مو ځوانان
په خپلي شتمنی کی یو د عمر فقیران
نه کیږی ګذاره له داسی جبر سره نوره
ساتی به پښتانه د استبداد د ظلمو زوره

پښتون نن بیدار شوی پښتون نه دی د پرون
کوی به ستا لمن باندی دا نن ملی تړون
جګړي ته دي تیار د هر ابلیس د هر قارون
خبره د منظور ده نه منو خبره نوره
رواني مو زلمو سره دي پیغلی په سر تور

اکتوبر/۲۰۲۴/۱۲


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ